# د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت

## د ارشــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**
**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۲۸/ صفر المظفر /۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۳۱ /اسد /۱۴۰۴هـ، ش**

# د هیواد هر اړخیزه آبادي د افغانستان اسلامي امارت له مهمو لومړیتوبونو څخه ده

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله نستعينه ونستهديه، ونستغفره ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له ، ومن يضلل فلا هادي له ، ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ، ونشهد أن محمداً عبده ورسوله، أرسله بين يدي الساعة بشيراً ونذيراً ، وداعياً إلى الله بإذنه وسراجاً منيراً ، فهدى الله به من الضلالة، وأرشد به من الغي، حيث بلغ الرسالة وأدى الأمانة، ونصح الأمة، وجاهد في الله حق جهاده، وعبد الله حتى أتاه اليقين من ربه، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً كثيراً وبعد، أما بعد: قال الله سبحانه وتعالى:( أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ كَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَأَثَارُوا الْأَرْضَ وَعَمَرُوهَا أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ)[الروم:۹]

**ګرانو حاضرینو !**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

د رعیت دُنیوي او اُخروي د مصالحو تأمینول د هر نظام د مسئولیتونو او ارمانونو څخه وي ؛ ځکه چې په مصالح العباد والبلاد پورې د رعیت ترقي، سوکالي، خوښي او خوشحالي او ډول ډول سهولتونه تړلي وي او د آبادۍ اساس ګڼل کیږي.

د هیواد هراړخیزه آبادول په حقیقت کې د هغه عظیم مقصد برخه ده چې د هغه مقصد لپاره انسان دې نړۍ ته راغلی دی چې هغه د ځمکې آبادول دي . د هیواد او ځمکې آبادولو په اړه د قرآن کریم مختلف آیتونه په مختلفو عباراتو او اسـالیبو سـره نازل شـوي دي، چې د ټولو آیتونو موخه داده چې ځمکې ته د انسان د رالیږلو یوه موخه لومړۍ د الله تعالی پر ځمکه د الله تعالی عبادت کول او دهغه قانون نافذول دي او په دوهم قدم کې انسان ځمکې ته ددې لپاره رالیږل شوی دی چې ځمکه او خپل هیواد په هراړخیزه توګه آباد کړي؛ ترڅو انسان وکولای شي خپل ضرورتونو، حاجتونو او نور دده ژوند پورې تړلی شیانو ته لاس رسی ولري.

په یو مبارک آیت کې راځي:( هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا)[هود: ٦١].

ترجمه:- همدغه الله پیداکړي یئ تاسې له ځمکې (چې آدم یا ماده د نطفی ده) او عمرونه یې درکړي دي تاسې ته په دغې ځمکې کې.

په یو بل مبارک آیت کې راځي چې تاسـو ته مو اختیار درکړی دی په ځمکه کې او سـتاسـو لپاره مو د ژوند اسباب پیدا کړي دي ، ترڅو تاسو ورڅخه ګټه پورته کړئ:(وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ قَلِيلاً مَّا تَشْكُرُونَ)[الاعراف:۱۰]

ترجمه:- او خامخا په تحقیق ځای (او قدرت او تصرف) در کړی دی مونږ تاسـې ته (انسانانو!) په ځمکه کې او پیدا (مقرر) کړي دي مونږ تاسې ته په دغې ځمکې کې (هرقسم اسباب د) ژوندانه، لږ شانې شکر وباسئ تاسې.

په یو بل آیت مبارک کې راځي چې تاسې په ځمکه کې وګرځئ په ځمکه کې ستاسو څخه وړاندې اوسیدونکو دا ځمکه ډېره آباده کړې وه.(وَعَمَرُوهَا أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ) [الروم: ٩]
ترجمه:- او ودانه کړې وه (کفارو پخوانیو) دغه ځمکه ډېره له هغې ځمکې نه چې و دانه کړې ده (دمکې کفارو) دغه (ځمکه)، او راغلي وو دوی ته رسولان د دوی په ښکاره دلائلو، او نه وو الله چې ظلم وکړي په دوی باندې، ولیکن وو دوی چې پر نفسونو خپلو به یې ظلم کاوه ( د انبیاوو په تکذیب سره).
په بل مبارک آیت کې راځي چې مونږ ستاسو لپاره په ځمکه او آسمانونو هرڅه مسخر کړي دي ترڅو تاسو ورڅخه استفاده وکړئ: (أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ) [لقمان: ٢٠]
ترجمه:- آیا نه وینئ تاسې (ای انسانانو!) چې بیشکه الله مسخر کړي په کار اچولي دي تاسې ته هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هغه څوک چې په ځمکه کې دي.
همداراز فرمایي: (وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ)[ الجاثية: ١٣].
ترجمه:- او په کار لګولي مسخر کړي یې دي تاسې ته هر هغه شیان چې په اسمانونو کې دي( لکه لمر ،قمر،نجوم) او هر هغه شیان چې په ځمکه کې دي (لکه اوبه،خاوره، او حیوانات او نور) ټول (مسخر) له (طرفه د) الله دي.
په یو بل مبارک آیت کې راځي چې مونږ وسپنه نازل کړې ده چې د ځمکې د ابادۍ او نورو کارونو لپاره په کې زیات رازونه پراته دي. (وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ) [الحديد: ٢٥]
ترجمه:- او رالیږلې ده مونږه اوسپنه. چې په دې کې سخت جنګ ډېر قوت دی ، او (په کې ډېرې) منافع ګټې دي لپاره د خلقو.
په یو بل مبارک آیت کې راځي چې په ځمکه کې فساد مه کوئ ؛ ځکه فساد د ځمکې آبادي له منځه وړي. (وَلاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاَحِهَا) [الأعراف: ٥٦]ترجمه:او مه کوئ فساد( ای انسانانو) په ځمکه کې وروسته له اصلاح د دې (د انبیاوو په بعثت سره).
دا او داسې نور آیتونه او نبي احادیث مونږ ته ترغیب راکوي چې مونږ خپل هیواد په هراړخیز ډول آباد کړو ځکه چې د هیواد آبادي د ځمکې د آبادۍ برخه ده او د ځمکې په آبادولو حکم شوی دی.
خو د هیواد او آبادول په دوه ډوله دي یو مادي او حسي ډول آبادول او بل په معنوي او روحي ډول آبادول.

## لومړی: د هیواد په مادي او په محسوس ډول آبادول:

د هیواد په مادي او حسي ډول آبادول د اسلامي امارت لومړیتوب دی لکه د سړکونو جوړول او رغول، د اوبو دبندونو جوړول او رغول، په هیواد کې پلونه او پلچکونه جوړول، په هیواد کې مسجدونه، مدرسې، مکتبونه او پوهنتونونه جوړول او رغول، په هیواد کې شفاخانې او روغتونونه جوړول او رغول، په هیواد کې ددولتي چارو د اجراءاتو دفترونه او سکتورونه.
ددې ټولو شیانو شتون ته زمونږ د هیوادوالو ضرورت او اړتیا ده او اسلامي نظام ددغه ډول آبادیو دجوړولو مکلفیت په غاړه لري.
الله جل جلاله فرمایلي دي: ( هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا)[هود: ٦١].
ددې مبارک آیت په تفسیر کې امام جصاص رحمه الله فرمایلي دي: يَعْنِي أَمَرَكُمْ مِنْ عِمَارَتِهَا بِمَا تَحْتَاجُونَ إلَيْهِ وَفِيهِ الدَّلَالَةُ عَلَى وُجُوبِ عِمَارَةِ الْأَرْضِ لِلزِّرَاعَةِ وَالْغِرَاسِ وَالْأَبْنِيَةِ). أحكام القرآن للجصاص (٤ /٣٧٨)
یعنې(الله) امر کړی دی تاسې ته په آبادولو د ځمکې هغه څه ته چې ستاسې اړتیا وي. په دې آیت کې دلالت دی په وجوب د ځمکې په آبادولو د زراعت لپاره، د ونو کرلو لپاره او د کورونو آبادولو لپاره.
امام کَیاهراسي رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکي:(یدل علی وجوب عمارة الأرض، فإن الاستعمار طلب العمارة، والطلب المطلق من الله تعالى للوجوب). أحكام القرآن للكيا الهراسي (٤/ ٢٢٦)

ژباړه:- (دا آیت) دلالت کوي د ځمکې د آبادولو په وجوب باندې؛ځکه چې اســتعمار طلب د عمارت ته ویل کیږي او مطلق طلب د الله تعالی له خوا د وجوب لپاره وي.

همدارنګه د افغانســتان اسـلامي امارت یو سـوچه اسـلامي نظام دی او دا نظام د الهي احکامو د تطبیق او تنفیذ ترڅنګ د هیواد آبادولو ته لکه څرنګه چې اسلامي شریعت امر کوي ژمن دی.

په اسلامي سیاست کې امیر المؤمنین، یا خلیفة المسلمین چې ټول د یو مسئولیت جدا جدا نومونه دي ، دا وظیفه لري چې د الله په ځمکه کې الهي قانون پرخلکو نافذ کړي او د مسلمانانو هیواد په هر اړخیز ډول آباد کړي.

ځکه چې الله تعالی د مؤمنانو سره ددې وعده کړې ده چې زه به تاسو ته تمکین، سلطنت، قدرت او د ځمکې اختیارات درکوم.

خلافت په ځمکه کې تمکین ، قیادت او دځکمې په خلکو باندې سیادت کولو ته ویل کیږي.

الله جل جلاله فرمایلي دي: (وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ)[النور:۵۵]

ترجمه:- وعده کړې ده الله له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی له تاسې،او کړي یې دي ښه (عملونه) چې قسم دی خامخا به خلیفګان کړي (الله) دوی په ځمکه کې لکه چې خلیفګان کړي یې وو هغه کسان چې پخوا وو له دوی نه.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي: ( وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ) [الأعراف: ۱۲۹]

ترجمه:- او خلیفه کړي تاسې په دغې ځمکې (ملک د مصـر یا شـام کې پس له هلاکه د قطبیانو) بیا به وګوري (الله) چې څرنګه عمل کوئ تاسې.

**د اســتدلال وجه:** خلیفه ته ځکه خلیفه وایې چې خلیفه په ځمکه کې دالله تعالی د اوامرو د تنفیذ په برخه کې د الله نیابت کوي او په خلکو باندې دالله تعالی اوامر تطبیقوي او د الله تعالی ځمکه آبادوي او د خلکو د کارونو تدبیر او سیاست کوي.

علامه آلوســي رحمه الله لیکلي دي:(ومعنى كونه خليفة أنه خليفة الله تعالى في أرضــه وكذا كل نبي أســتخلفهم في عمارة الأرض وسياسة الناس وتكميل نفوسهم وتنفيذ أمره فيهم). روح المعاني (۱/ ۲۲۰)

د خلکو د ژوند د آسایش او سهولت لپاره او د آفتونو د مخنیوي لپاره د هیواد آبادل د حضرت یوسف علیه السلام سُنت دي.

کله چې ددې امکان پیدا شـو چې په راتلونکي کې به قحطي راځي ، نو یوسـف علیه السـلام د مصـر زمامدار ته د خلکو د قحطۍ څخه د بچکیدو لاره وښودله او داسې ورته وفرمایل:( قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدْتُمْ فَذَرُوهُ فِي سُنْبُلِهِ إِلا قَلِيلا مِمَّا تَأْكُلُونَ)[یوسف:۴۷]

ترجمه:- وویل (یوسـف) چې کرئ به تاسې (هر قسم فصل) اووه کاله پرله پسې په ډېر زیار (کوښښ) سره ډېر،نو هر هغه چې وربېل تاسې نو پرېږدئ هغه غله په وږي خپل کې مګر لږ شاني له هغه چې تاسې یې خورئ.

د یوسف علیه السلام مفکوره د ځمکې د آبادۍ او دهیواد د سوکالۍ په خاطر ورکړه.

امام راغب اصفهاني رحمه الله لیکلي دي: والفعل المختص بالإنسان ثلاثة أشياء:

۱ - عمارة الأرض المذكورة في قوله تعالى: (وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا)، وذلك تحصيل ما به تزجية المعاش لنفسه ولغيره.

۲ - وعبادته المذكورة في قوله تعالى: (وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ )، وذلك هو الامتثال للباري - عز وجل - في أوامره ونواهيه

۳ - وخلافته المذكورة في قوله تعالى: (وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ).وغيرها من الآيات، وذلك هو الاقتداء بالباري سبحانه على قدر طاقة البشر. الذريعة الى مكارم الشريعة للامام الراغب(ص: ۸۲)

ژباړه:- انسان پورې مختص درې شیان دي: ۱-دځمکې آبادول لکه چې په دې قول: (وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا)دالله تعالی کې ذکر دي او استعمار حاصلول د هغه څه دي چې د ځان لپاره او د نورو لپاره معاش راجلبوي.

۲- د الله تعالی عبادت کول چې د الله تعالی په دې آيت کې :(وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ) ذکر دي شـوی دی، چې د الله عبادت هغه د الله تعالی منل دي د هغه اوامر او نواهي.

۳- او د الله تعالی خلافت کول دي، چې دالله تعالی په دې آيت کې (وَيَسْـتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ) او نورو آيتونو کې ذکر شوی دی او هغه دالله تعالی پيروي کول دي دانسان د توان په اندازه .

د سياست شرعي علماوو او مجتهدينو د امير المؤمنين، امام او خليفه په وظائفو کې ليکلي دي چې هغه به د رعيت د مصالحو په خاطر په هيواد کې او دده د سلطې لاندې خاوره کې، د آبادۍ، عمراني او زراعتي حرکتونه په کار اچوي.

امـام شــيزري رحمـه اللـه د امـام او ولي الأمر پـه وظائفو کې ليکلي:(الثالث: عمَارَة الْبلدَانِ باعتماد الْمصَــالح وتهذيب الســبل والمسالك)

المنهج المسلوك في سياسة الملوك (ص: ۲۵۰)ژباړه: دريمه وظيفه: د ښارونو آبادول د مصالحو په نظر کې نيولو سره او د لارو جوړل.

شاولي الله محدث دهلوي د دولتي مصارفو په اړه وايي:(ومن حقه أن يصرف إلى المنافع المشتركة مما ليس فيها تمليك لأحد . ككري الأنهار . وبناء القناطر، والمساجد ، وحفر الآبار ، والعيون ، وأمثال ذلك) . حجة الله البالغة (۱ /٤۹۹)

ژباړه:- په کار ده چې دولتي مال په هغو مشترکو منافعو کې ولګول شي چې د چا ملکيت نه وي. لکه د نهرونو کيندل او ويستل، د پلونو جوړول او مساجدو جوړول، د کوهيانو کيندل او د اوبو د چينو کيندل او داسې نور.

د هيواد د هر اړخيزه آبادولو او دکار او کسب په باره کې بې شميره احاديث شته دی چې د ځمکې او د هيواد د آبادولو پر اهميت او فضـيلت دلالت کوي.زمونږ د مسـلمانانو ماضـي او تاريخ بالخصـوص د اموي او عباسـي خلافتونو پر وخت د آبادۍ، ښـيرازۍ او عمراني کارونو مثالونه به په بشري نړۍ کې ډيرکم وي.

د هيواد په هر اړخيز ډول آبادولو کې د بندګانو مصـالح نغښـتي دي او د مصالح العباد که هغه دنيوي وي او اخروي هغه معتبر دي .ابن فرحون وايي: (وَتَوَهَّمُوا أَنَّ السِّيَاسَةَ الشَّرْعِيَّةَ قَاصِرَةٌ عَنْ سِيَاسَةِ الْخَلْقِ وَمَصْلَحَةِ الْأُمَّةِ، وَهُوَ جَهْلٌ وَغَلَطٌ فَاحِشٌ. فَقَدْ قَالَ عَزَّ مِنْ قَائِلٍ: {الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ} [المائدة: ۳] ، فَدَخَلَ فِي هَذَا جَمِيعُ مَصَالِحِ الْعِبَادِ الدِّينِيَّةِ وَالدُّنْيَوِيَّةِ عَلَى وَجْهِ الْكَمَالِ).تبصرة الحكام في أصول الأقضية ومناهج الأحكام (۲ /۱۳۷)

ژباړه:- ځينې خلک په وهم کې پريوتې دي او فکر کوي چې شرعي سياست د خلکو د کارونو د تدبير او د امت د مصلحتونو څخه قاصر دی چې دا توُّهم جهل دی او فاحشه غلطي ده . الله جل جلاله فرمايلي دي : (نن ورځ ما کامل کړ ستاسو لپاره ستاسو دين) په دې آيت کې کريمه کې د بندګانو دنيوي او اخروي ټول مصالح په کامله توګه داخل شو.

د افغانسـتان اسـلامي امارت د هيواد هر اړخيز آبادول په خپلو لومړيتوبونو کې نيولی ده، مونږ کولای شو چې د نمونې او مثال په توګه په لاندې برخو کې د اسلامي امارت د اعماري فعاليتونو ذکر وکړو:

**۱- د اوبو د مديريت او دځمکې لاندې اوبو د سطحې د لوړولو په برخه کې آبادي:** د افغانسـتان اسلامي امارت د اوبو د مهارولو او د ځمکې لاندې اوبو دسطحې د بهبود په خاطر مختلف لوی او کوچني ډيمونه يا جوړ کړي دي او يا يې کارونه جريان لري؛لکه هرات د پاشـدان بند افتتاح،د شـاه او عروس د اوبو بند رغول او افتتاح کول،د فراه ولايت د بخش آباد ډيم جوړول،چې کارونه يې ۹۰./.نوي سلنه تکميل شوي دي.

د قوش تيپې کانال چارې چې دوهم فاز هم په تکمليدو دی او په دې سـره به د افغانسـتان په لکهاوو جريبه ځمکه وچې دشـتې خړوبه او په زراعتي کانالونو به بدل شي او د ځمکې لاندې اوبه به هم پوره شي. د لغمان ولايت د الشينګ ولسوالی کانال چې په شرقي زون کې ترټولو لوی کانال دی.د کنړ ولايت د وټپور کانال افتتاح چې په زرهاو جريبه للمي ځمکه خړوبوي.....

په پکتيا او خوست ولايتونو کې د چک ډيمونو کارونو جريان لري چې دغه چک ډيمونه له يوې خوا سيلابي اوبه مهاروي او له

بلې خوا زراعتي ځمکو ته اوبه ذخیره کوي، په لغمان کې د لوی کانال چارې په چټکۍ سـره مخ په وړاندې روانې دي چې په دې سره به وچې دښتې په شنو بڼونو بدلې شي،

**۲- د بریښنا او انرژۍ د تولید په برخه کې:**

د اوبو له ډیمونو څخه بریښـــنا تولیدیږي او مونږ دبرق په برخه کې د خود کفایې لورې ته بیایې. د نغلو د ډیم د دوربین د بیاځل لپاره فعالول، د سـروبي په ساحه کې او د نغلو ساحه کې د آفتابي بریښـنا د سـولر سیسـتم نصبول او فعالول. په ننگرهار کې د جنراتورونو نصـبول او فعالول چې په ننگرهار کې د بریښــنا د زیادت په برخه کې رغنده رول لوبوي. په آرغندي کې د لوی سـب سـتیشـن جوړول او نصبول او د اوزبکسـتان هیواد سره د بریښـنا د واردولو قرارداد لیک چې په تیرو درې ورځ کې امضاء شو او ددې قرارداد له مخې به زر میگاواټه بریښنا هیواد ته وارد شي.

د څلویښـتو کلونو څخه وروسـته د شـبرغان د گازو نل لیکه بلخ ولایت ته ورسـول شـوه او اوس یې د ولس کورونو ته د وصل په سیستمونو کارونه روان دي.

همدار راز تقریبا د دیرشو کلونو ځنډ وروسته د اسلامي امارت په هاند او هڅو سره د لومړي ځل لپاره د افغانستان په داخل کې د ټاپي پروژې د گازو د پایپ غزولو کار پیل شو.

**۳- د عمومي سړکونو جوړول برخه:**

د افغانسـتان اسـلامي امارت د حاکمیت په ډېره کمه موده کې د لویو لارو سـرکونو او د فرعي سـړکونو په برخه کې لویه لاس ته راوړنې لري؛ لکه د کابل کندهار سره جوړول، د کابل غزني دوهم لین سرک جوړلو دکار جریان ،

د سرای شمالي د سرک جوړول، د کابل جلال آباد لویه لاره باندې تر تنگۍ غارو پورې د دوه جدیدو سړکونو چارې په چټکۍ سره جریان لري چې کارونه یې قیرریزی ته نږدې شوي دي.

د کابل هوایي میدان څلور لارې څخه تر جلال آباد عمومي سـړک پورې د جدید سـړک جوړلو چارې چې کارونه یې ۹۵./. فیصـده مخ ته تللي دي.د کارته نو بگرامۍ سـاحې پورې د ددوه جدیدو سـړوکونو او پیاده رونو جوړول، د کابل هوایي میدان کې جدید تأسیسات جوړول او د پخوانیو تأسیساتو رغول.د لوگر ولایت ددوهم لین سړک جوړول چې کارورباندې روان دی.

د کابل دائروي سـړک د کابل له شـمال څخه د کابل کندهار عمومي سرک سره د وصلیدو په حالت کې دی، د کابل جلال دوهم لین سړک جوړلو چارې په تیزۍ سره روانې دي او داسې نور ډیرزیات عمومي او فرعي سړکونو د جوړولو چارې جریان لري......

**۴- د صنعت او تجارت په برخه کې:**

اسـلامي امارت د صنعت او تجارت په برخه کې ډېرې مهمې لاسته راوړنې لري، لکه د پل چرخي په صنعتي پارک کې تاجرانو ته د ځمکې ویش، د مختلفو توکو او وسائلو فابریکو احداث او په فعالیت پیل چې د هغې له جملې څخه د وسپنې د ویلې کولو د پل چرخي او هرات فابریکو څخه یادونه کولای شو، همداراز د دواسازۍ د فابریکو د جوړېدو یادونه کولای شو.

په بغلان کې د غوري سیمټو د فابریکې د کار پیل او په کندز کې د مالوچو او د مالوچو د دانو څخه دغوړیو تولیدولو کار پیل.

خلاصه داچې د صنعت په برخه کې گران هیواد په صنعتي برخه کې په ( ۱۳۰ ) مواردو کې خود کفایې ته رسیدلی دی.

همداراز د ریل پټلۍ په برخه کې هم دافغانسـتان اسـلامي امارت بې شـمیره خدمتونه ترسـره کړي دي او د خواف هرات د ریل پټلۍ پـه غزولو کـار روان دی ترڅو د ریل په برخه علاوه د تجارتي کالیو او توکو څخه گران هیوادوال وکولای شـــي چې د هرات څخه د ایران مشهد ښار ته د ریل له لارې سفر وکړي.

**۵- د معدنونو د کیندلو او استخراج په برخه کې:**

په افغانستان کې به د هیواد کانونه په نا قانونه توګه او په غیر مسلکي ډول کیندل کیدل او ګټه به یې مافیایې کړیو په جیبونو ته ولیدله ، چې خوشبختانه اسلامي امارت دغه تشه ډکه او د هیواد مختلف کانونه لکه د تیلو استخراج، د قیمتي ډیرو کانونه یې د آزادې سیالۍ له لارې مشهورو کمپنیو او مسئوله جهتونه ته د قوانینو د رعایت په نظر کې نیولو سره ورکړل او اوس د هیواد د معدنونو ګټه او فائده ګرانو هیوادوالو او ددولت خزانې ته ورځي.

**دوهم: د هیواد په معنوي او روحي ډول آبادول:**

لکه څرنګه چې د مسلمانانو مکلفیت دی چې خپل هیواد او ځمکه په مادي او حسي ډول آباده کړي دارنګه اسلامي امت په دې مکلف دی چې ځمکه او خپل هیواد په معنوي لحاظ سره آباد کړي او دا شرعي مکلفیت یوه حصه ده.

د معنوي او روحي آبادۍ څخه زمونږ مقصد خپل هیواد باید په الله جل جلاله باندې په راسخ ایمان درلودلو باندې آبادول، د خپل ښارونه ، کورونه او مسجدونه د الله تعالی په عبادت آبادول، د علم او پوهه په خلکو کې عامول او خپرول، د نیکو اخلاقو او غوره خویونو باندې خلک سمبالول، په ټولنه کې وحدت او یووالی راوستل، په هیواد کې دامر بالمعروف او نهی عن المنکر کار کول....

الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ)[الذاريات:٥٦]

ترجمه:- او نه دي پیدا کړي ما پیریان او انسانان مګر لپاره د دې چې عبادت وکړي دوی زما.

مکه مکرمه د ابراهیم علیه السلام د راتللو څخه مخکې تش او خالي میدان ؤ، د مکې مکرمې د آبادولو لپاره ابراهیم علیه السلام له شام څخه راغی او داسې یې وفرمایل: (رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ) [ابراهیم: ٣٧].

ترجمه:- ای ربه زمونږ! بېشکه چې ما اوسولي دي ځيني له اولاد خپل( چې اسماعيل او اولاد يې دی) په داسې يوه وادي (ناو) کې چې نه دی خاوند د کښت (فصل) په نزد د کوټې ستا چې حرمت (عظمت) ولا ده، ای ربه زمونږ (ومې اوسول دوی دلته) د دې لپاره چې سم ودروي (اداء کړي سره له ټولو حقوقو)لمونځ، نو و ګرځوه (مائل کړه) زړونه د ځينو خلقو په مينه(چې راځغلي دوی ته او رزق او روزي ورکړه دوی ته له هر قسمه ميوو څخه لپاره د دې چې دوی شکر و باسي.

د ځمکې او هیواد په معنوي ډول د آبادول په اړه الله تعالی فرمايلي دي: (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ * خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ * الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ * عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ)[العلق:٥]

ترجمه:- ولوله (ای محمده! قرآن) په برکت د نامه د رب خپل هغه رب پالونکی چې پیدا کړي يې دي (ټول مخلوقات).پیدا کړی دی انسان له ټوټو د ټرليو شويو وينو څخه. ولوله(ای محمده! قرآن) حال دا چې رب ستا لوی کريم دی (پر ټولو کريمانو)هغه (رب پالونکی) چې ښوولی يې دی (خط انسان ته) په قلم سره. ښوونه يې کړې ده انسان ته د هغو شيانو چې دی پرې نه پوهيده (پخوا له ښودلو).

ددين نشرول او عامول ددولت له مهمو دندو څخه دي چې په قلم او په ژبه خلک د الله تعالی ددين څخه خبر کړي.

د نظام د مهمو وظائفو څخه ددين حفاظت دی او ددين حفاظت د دين د شعائرو په حفاظت کې او د لمانځه په قائمولو کې او د زکات په ورکولو سره ترسره کيږي لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:( الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ) [الحج: ٤١]

ترجمه:-  (دغه مهاجر مظلومان) هغه کسان دي چې که چېرې قدرت ور کړو مونږ دوی ته په ځمکه کې (په دښمن باندې د غلبې پـه اعتبار) نو قائموي دوی (ســـم اداء کوي به ســـره له ټولو حقوقو).لمونځ او ورکوي به زکات او امر حکم به کوي (خلقو ته) په معروف (په نیک شرعی کار) سره او منع کوي به (خلق) له بد کار څخه او خاص د الله په اختیار کې ده آخره خاتمه د ټولو کارونو.
امام ضـحاک رحمه الله ددې آیت په تفسـیر کې وایي:(هو شـرط شـرطه الله عز وجل على من آتاه الملك). القرطبي في تفسـیره (۷۳/۱۲)
ژباړه:- دا هغه شرط دی چې الله تعالی په هغه چا ایښی دی چې الله تعالی ورته حاکمیت ورکړی وي .
همداراز د هیواد معنوي آبادل په هیواد کې د حدودو نافذول دي او شرعي تعزیرات عملي کول دي.
همدا راز د هیواد آبادي په هیواد کې عدل او انصاف خپرول او عملي کول دي.
همدا راز د هیواد آبادي په هیوادوالو باندې مهرباني او شفقت کول دي، لکه چې په حدیث شریف کې راځي، نبي علیه السلام فرمایلي دي: (اللهم من ولي من أمر أمتي شيئا فشق عليهم فاشقق عليه ومن ولي من أمر أمتي شيئا فرفق بهم فارفق به) صحیح مسلم
ژباړه:- ای الله ! څوک چې زما د امت کارونو څخه څه شـی په غاړه واخلي او بیا پر دوی سختي راولي ، ته پر هغه باندې سختي راوله! او چاچې په غاړه واخیست کوم کار زما د امت او بیا پر دوی مهرباني او شفقت وکړي، نو ته په هغه باندې مهرباني او فضل وکړه.
د افغانستان اسلامي امارت هم د هیواد په معنوي او روحي آبادولو کې رغنده رول لوبولی دی.
د علم د زده کړې لپاره د هیواد په ســـطحه ددیني علومو د زده کړې مدارس او دارالحفاظونه ایجاد او رامنځ ته کړي دي. د مکتبونو او پوهنتونونو دروازې خلاصې ساتلي دي او تعلیمي بهیر یې جاري ساتلی دی.
د دین د حفاظت په اړه یې شرعي محاکم او شرعي قانون چې دالله تعالی کتاب او درسول الله په سنتو او د حنفي فقهې د مجتهدینو د اجتهاداتو په رڼا کې د خلکو ترمنځ فیصلې کوي او وضعي قوانین یې له محاکمو لیرې کړي دي.
همداراز د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په برخه کې یې مستقل وزارت ددولت په تشکیلاتو کې زیات کړی دی او محتسبین شپه او ورځ خپلې دندې مخ په وړاندې بوزي.
د لمونځونو او عبادتونو لپاره یې په مســـاجدو کې امامان مقرر کړي دي او دخلکو د پوهاوی او د کوچنیانو او زلمیانو ددیني زده کړې لپاره یې امامان او خطیبان خپلو دندو ته متوجه کړي دي او د جمعې ورځې دخطابت، تقریر او بیان لپاره د ارشاد، حج او اوقافو وزارت له خوا په مشخصـه موضوع کې امامانو او خطیبانو علمي مواد او معلومات چمتو کوي او دټول هیواد په مساجدو یې توزیع کوي ترڅو خلک ددین څخه پوره پوره اګاه شي.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**